مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۴/۱۰/۱۷

# غزل

د دین په نوم یې دي خوښ کړي د پښتون سرونه
د زرو کالو را پدې خوا تر پرون سرونه

ما د انصاف په تله حق د ژوندانه غوښتی دی
په مقابل کښي رانه اخلي په بدلون سرونه

زما ویاړونو او میرانو ته په سپکه ګوري
دې ژور لینګیو مي را پرې کړل د پاڅون سرونه

د خیل او قام ځیني راوځی پښتنو یو ځای شئ
که نه د تن نه به مو پرې کاندي ګلګون سرونه

ای پسرلیه د سپرلي ورېمي را وخوزَوه
بیا به آتڼ ته څنړی وړي د سباوون سرونه

مصطفی پسرلی
16/Oct/2024



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ